سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۱۲/۰۲/۱۱

افغانستان کې سوله

دالمان له تدخ وييبانه، ليکوال: توماس روتيګ

طالبانو سره له چلونو او زور ازميلو ډکه لوبه

قطر يا سعودي عربستان بايد د اسلامي بنسټپالو سره د خبرو اترو منځګړتوب وکړي؟ د شخړو او زور ازميلو تر شاد واک پر سر ستره پټه سيالي روانه ده. موخه دا ده، چې خُوک د افغانستان راتلونکي برخليک ټاکي.

پخواني طالب جنګيالي د پوليسو سره پخلاينه کوي

برلين: له کلنه چې طالبانو د جنوري په ميا شت کې تاييد کړه، چې دوی د قطر په هيوادکې يو دفتر پرانيزي . د افغانستان ولسمشر ډکامي غبرګونونه ښيي. ورسته تر دې چې ولسمشر په دغه خبره تينګ ودريدلو، د وسله والو پاڅونکوونکو سره ټولې خبرې اترې او اړيکې چې موخه يې د سياسي کړکيچ سوليز حل وي، په هيواد کې د ده لخوا او د ده په مشري بايد ترسره شي . متحده ايالاتو ده ته هم تل دا ډاډ ورکاوه چې همداسي به وشي او د سولې کړکيچني خبرې به ،،د افغان حکومت په سرمشري ،، تر سره کيږي. د ولسمشر د انتظار خلاف، دی يوار بيا د ورځپاڼي له لارې خبر شو، ده په ډير غوسه او تلوار سره خپل سفير دخليچ له اماراتو څخه کابل ته وروغوښت.

ولسمشر له بي بي سي سره په يوه مرکه کې وويل ، چې دی به ،،د يوې بلې لارې هڅه ،، وکړي، تر څو دی په خپله د سعودي عربستان په مرسته دطالبانو سره خبرو اترو ته کيني. دی وايي، دا هڅې بايد په څو اوونيو کې مخکې له دې چې د طالبانو له خوا په قطر کې دفتر پرانستل شي، تر سره شي. په بله وينا دا بهير به لږ څه وخت ونيسي.

تر اوسه نه د سعودي او نه د طالبانو له خوا په دې برخه کې څه ويل شوي دي.

ژباړن: (دهمدې ليکنې د ژباړني په مهال اوس خبر خپرو شو، چې په سعودي کې دافغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې د طالبانو له خوا رد شوي دي او سعودي دافغانستان د سولې په احتمالي خبرو کې له احتياطه کار اخلي). ولي دا به يو ستر زيري وي،چې طالبان د خپل پخواني سياسي دريځ خلاف،، کابل کې ګوډاګي رژيم سره خبرو ته نه کيني ،، په شا شي .

کرزي هڅه کوي د سعودي له لارې ،چې د غه هيواد له خپل کوشني ګاونډي هيواد قطر سره ترينګلي اړيکې لرې ګټه پورته کړي . سعودي عربستان د ۲۰۰۵ کال څخه له کلنه د ټولواک عبدالله د واک تر ولکې لاندې راغلې، يو زوړ دود پال اود لوديديځ ضد سياست پلي کوي. د سعودي په پرتله دقطر هيواد بيا نسبتآ لبيراله او د لوديديځ ملګري هيواد په ځير را څرګندېږي. د بيلګې په ډول قطر د ليبيا هيواد په پوځي عملياتو کې برخه واخيستله . د متحده ايالاتو امريکايان ويده نه دي .

د طالبانو يو پخواني وزير نن د کرزی د سولې عالي شورا غړي او د طالبانو يو وياند تاييد کړي، چې د طالبانو يو مخکښ هيات قطر ته رسيدلی دی . په دغه استازي ډله کې د ملا محمد عمر د پخواني کابينې مشر سکرتر طيب اغا ګډون لري . طيب ا غا د ۲۰۱۰ کال له پيل څخه د المان ـ قطر لخوا په يوه پټه لېدنه او ناسته کې ګډون درلود. دغې ناستې دمتحده ايالاتو کانال طالبانو ته پرانيستلو .

د بنديانو په اړه به څه ډول پريکړه کيږي ؟

اوس مهال بيا نوي خبرې د بنديانو د تبادلې په اړه روانې دي. د پخوانيوطالبانو له خولې ويل کيږي ، دغې خبرو اترو ډ ير پرمختګ هم کړي دی . طالبانود خپلو پنځو ملګرو چې دوی اوس دګوانتانامو په زندان کې ناست دي د خلاصون غوښتنه کړي ده او امريکايان د طالبانو څخه د خپلو دريو وګړوخلاصون غوښتنه کړي ده. يو امريکايي سرتيري او دوه په پاکستان کې يرغمل نيول شوي امريکايي ملکي مرستندويان دي. دري واړه امريکايان په شمالي وزيرستان کې ساتل کيږي او دغه سيمه د حقاني د شبکې له خوا کنټرول کيږي. دغې شبکې تل د طالبان په منځ کې خپلواکه عمل کړي دی . له همدې لارې واشګټن غواړي وپوهيږي، چې ملا عمر خپله اغيزه په دغه ډله باندې غزولې شي کنه.

افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د طالب بندیانو په اړه ډول ډول فکرونه شته دي. ځيني وايي، دغه پنځ طالب بندیان باید خوشي نشي، دوی باید په قطر کي نظربندوساتل شي . تر دي سترە پوښتنه دا ده ،چې په واشنګټن کي د امریکا په مشرانوجرګه کي د جمهوري غوښتونکو د لوی اکثریت له خوا به دغه پریکړه تصویب شي کنه.
مخکي له دي چې خوشبینه ووسو، باید د قطر یانو ـ افغان حکومت ترینګلتیا او د متحده ایالاتو ـــ پاکستان تر منځ د کړکیچ جړي ویستل شي. اسلام اباد ځومودە مخکي د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي مارک ګروسمن ته د سفر اجازه ور نه کړه.
واشنګټن د طالبانو ځخه رسمآ غواړي چې دالقاعدي ځخه ځان بیل کړي او رسمآ ومني په قطر کي د فتر د دوی دسفارت په مانا نه دی، دوی به دلته مالي مرستي نه راټولوي او د خپلو سیاسي ګټو لاسته راولړلو لپاره به د دفتر ځخه ناوړه ګټه نه اخلي.
دا ورستي خبره بې مانا ده، په ځرګنده توګه کله چې دطالبانو له خوا په قطر کي دفتر پرانیستل شي، دوی به رسمآ دسیاسي کړکیچ یوه غاړه او یا د یو سیاسي ګوندپه ځیر وپیژندل شي. د همدي ،،ویښپاني تدځ ،، د مالوماتو پر بنسټ طالبانو پر ګورسمن ومنل، چې د دوی د دفتر په دروازه به دافغانستان اسلامي امارت لوحه ځوړنده وي .

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ